ماشاء الله لا قوة الا بالله

درین زمان بمن قادر سبحان و اکرام کن فکان دلبر عشاق زبان ملی قصه



منصور حیدر راجه

بزبان افغانی بفرمائش تاجر حمید داد صاحب بیان محمد معروف اللهم انفعه فی الدارین

در مطبع فاروقی دهلی باهتمام میر محمد معظم مطبوع گردید

ربِ یسّر — بسم الله الرحمٰن الرحیم — وتمّم بالخیر

رب لایق دکُل صفت دی
بی نمونَ بی مثال دے
ذاتِ صفات ئی بلا ریبَ
اوّل کاف وریسی نون دے
چہ وحدت جلوه ښکاره کړه
قدرتونَ ئی شان شان دِے
اسفل السّافلین وروره
لہ طلوعَ تر غروبَ
دا ذرّه ئی دقدرت دَه
هر قدرت چہ ئی اظهار دے
پہ قدرت ئی دفتر ساز دے
هوښیاران پہ کښې حیران دِے
هیڅ شئ نشتہ پورته ښکتَ
طالبان ئی هزاران دِے
نہ ئی حُب چرے کمیږے
هر قدرت ئی پہ کمال دے
مصنوعات ئی لہ هر بابَ
جوړوونکی یہ قدرت دے

چہ څرګند پہ خپل قدرت دی
بی مانندَ لایزال دے
منزّه ګڼړه لہ عیبَ
دا د درست مخلوق مضمون دی
دکثرت ئی نندارہ کړه
خود ښکاره پہ هر مکان دِے
پاس تر عرشِ بریں کوره
لہ شمال تر جنوبَ
نشانئی دحکمت دَه
دائی موتی دخروار دے
دحکمت پہ ښکلے راز دی
پاتی شوی ګنګ زبان دِے
بی د ده لہ ارادتُ
واصفان ئی پہ شان شان دِے
نہ ئی وصف پوره کیږے
هر کمال ئی بی زوال دے
بی آلتَ بے اسبابَ
دا خاصہ د ده صفت دے

لہ کثیف پیدا لطیف کا
لہ لطیف پیدا کثیف کا
ګړی پیدا پہ قدرت ئی
سخنونہ وکښلو لعلونہ
وصدف ترجہ ... ورکړی
پټ پیدا مکنون ... ورکړی
دمحمود پہ سر کښې هوش ...
دزنبور پہ نیش کښې نوش ...
د ... هو پہ ناف کښې ...
ورکړی دمشکو نافہ ...

... پہ حکم ...
تر ... اسبین ...
خدای رازق مطلق ...
ده روزی ... ورکړی
ده انفاس ... پیدا ...
پہ روزی ئی ...
مقدار ده ...
هر نفس ...
چہ د ...
خولک لا هو ...
...

دموسی غند په طور ځې
د معنو په میوه پور ځې

چه خپل قهر په چاروان کا
ورنه جور فرعون هامان کا

په دنیا په نیل غرقاب شي
په عقبې په اور کباب شي

د چا ځای زرین بساط کا
ورته ورانه عیش نشاط کا

مست په مینه د دنیا ځي
لکه ګرد چه په هوا ځي

د غرور په توسن سور وي
لائی څو خیالونه نور وي

او د چا مکان ویران کا
حاجتمند ئې د یو نان کا

زمکه فرش کړي ئې ځای صاف کا
هم خرمن خپله لحاف کا

د بوټې نمرۍ د پاره
تو کوڅے ورځې درے واره

دا کاروند د حکمت
ده پیدا کړل په قدرت

خاوندان د عقل هوش
په دے کار کښې دي خاموش

پوهه پرې پرده شه نادان
ناواقف ګنړه خپل ځان

چه خالق د خیر و شر دے
خود په خپل علم خبر دے

هیڅ حاجت ئې چا ته نشته
یو چارئې نشته نشته

دے خبیر بصیر دانا دے
دے غالب عزیز توانا دے

مونږ لایق ئې د خدمت یو
ثناخوان ئې د قدرت یو

له دهره خنې سابقه
دَه ثنا د ده لایقه

له عدم چه اظهار شو
دے خدمت له سرلوار شو

ولې مونږ لار خطا کړه
چه مقصود مو دا دنیا کړه

څکه ځای ته نه رسیږو
په مینځ لاري کښې ګیر یو

د لعین په قدم لاړو
څکه سوک په ستر کو جاړو

د هر چا چه پیشوا غول شي
لار خطا کانه جهول شي

که په خدای ئې نه کړے داد ونه
څوک بدئ واوري فریاد ونه

دی رحیم کریم غفار دے
هم د ده فضل بکار دے

چه حبیب د پاک الله دے
محمد رسول الله دے
مونږ د ده د شفاعت
امیدوار یو په قیامت
دے چه ختم الانبیا شه
د دنیا نوع مفتخر اشه
ملا د نعوت شوه په فلک
سر فراز شه په ده د ملک
واره خوان پاکی د یاد لانه

دے سرخط د مرسلانو
دے پیشوا د امتیانو
دے دستګیر د هر فریق دے
تر مادر پدر شفیق دے
ملائک چه د آسمان دے
یا د زمکې آدمیان دے
که سفلي که په افلاک دے
په فراق ئې سینه چاک دے
عرش کرسی ئې که امید دے
سپوږمۍ ستوري تر خورشید دے

ټولو

په صفت د سید المرسلین محمد مصطفی علیه الصلوة والسلام

اولیٰ یار لره پر تحقیق
دے ابوبکر الصدیق
بل پسی عادل عمر
دویم یار دے
دریم یار د دہ عثمان دے دستورو
د حیا د حلم کان دے
چه ئی خپل حقی جلی دے
څلورم یار ئی علی دے
چه دئی وا له دو د درود

هم سلام مروی نا محمد و
دا احمد وے منه امر رسول
پر درګاه د ذو الجلال
قبول لره ئی د دعا
هم پوره ئی منه دعا
تیرئی نصیب په قیامت
شفاعت د پاک حضرت
حمد د شفاعت غواړی
بیانی د احمد و سپین ږیری
بیان

تو لو نخ دے جاریستلے
سلامونه پر اشجار و
هم مرغانو پر سلام
هسے رنګ به ضمیر تر وی
په دنیا چه خر بنکاریږی
په دنیا کښی چه غوغا ده
پور ته تللے تر آسمان ده
هیڅ نفس د دہ له شوق
چه خالی شولے هغه ورک شولے
چه ئی مینه کړه چا کلکه
دهغو هغه مقام دے
خلاص به ګوزے له هیبت
چه ئی مهر په چا زور دے
دغه اور ئی عین ژوند دے
نوم ئی خوږ تر قند شکر دے
قند په ژبه خوږ پیدا کړی
چه دا هسے خوراک موږی
هر چه مست په محبت
که په سل پردو مستور شی
په محشر کښی به بیدار شی
شفاعت به ئی نصیب شی
هم حاصل به ئی کل مرادو
الصلوٰة والسلام
هم صبا هم د نما بنام وی
هم د دہ په اصحابو

د دہ نخ تر دے نیولے
په پر ویلی دے د ښه دارو
کړے دے په خوږ کلام
ده پسی چه دلګیر نه دوے
هر یو شے له ده خاریږے
دا د عشق د دہ صدا ده
کوز د زمکی تر پایان ده
خالی نه ګڼم له ذوق
له ایرو له خاورو سپک شول
هغه هسک شو تر فلکه
چه ئی نوم دار السلام دے
د محشر له مصیبت
بلے د ذره په سر ئی اور دے
چه ذره په کښی خورسند دے
عشق ئی مالګه په پوهر دے
نمک ساز ورسره لاکړے
عاشق کله بلا خوا د روی
وی د پاک نبی حضرت
تر قیامت به مخمور شی
چه حضرت سره کنار شی
هم جنت به ئی نصیب شی
په دیدار به مدام شاد وے
علی سید الانام
تر قیامت د مدام وے
هم د دہ په کل احبابو

بيان د شروع د كتاب او معلوم ولے د حال د دہ

راشه واوره ای طالبہ | عجيبہ لہ عجائبہ
را معلوم شول دير كاروته | چه راورانہ شول فكروته
هر طرف ته م افكار ځي | نه پوهيږم تا ريه تار ځي
آخر چه ته به مقام كړے | په يو ځاى كښې به آرام كړے
چه پخوا به ئې سرعت كړه | يو مقام به ئې نيت كړه
چه اخر او س په مقام شولے | په خپل ځاى كښې په آرام شولے
چه د دوے مقام پيدا شه | زړه م بيا هسے گويا شه
څوك چه ځي ته كارىگر | خالي نه ځي له هنر
ما ميزان د شعر ساز كړه | په ظاهر م د زړه راز كړه
چه پخوا م څه بيان كړه | د زړه راز م پټ عيان كړه
دررد شعر م منظوم شو | طالبانو ته معلوم شو
اوس خوږه قصه ده بله | خلقو كړي ده مجمله
هر شاعر په خپل طاقت | كړ بيان دا حكايت
دوے قصہ نا قصہ پښوه | خود څما حصه ئې ليكښوه
ما په داغه ز تكرار كړه | خښه وخار م صاف لار كړه
تمامي م كړه بيانه | ور سره آسانه كړانه
چا چه كړے دا انشاوه | سراسر تللي خطاوه
حاجت نه وه گفتگو ته | خصوصاً ژبي پښتو ته
چه د نظم كاروبار وه | دغه كار د فهمدار وه
ما الفاظ جمع شيرين كړل | په بند سحر م رنگين كړل
چه يكار د پښتو شي | دوى به پوه په گفتگو شي
چه راوي دي خه ويلي | ما هم هغه دے ليكلي
له تحقيق خداى خبر دى | پوه په هر څه سراسر دے

منشا د ښكاره كيدلو د دي قصے په خلقو كښې

راويان چه د اخبار دي | نا قلان چه د آثار دي
هيڅ كلا ند په روايت | په بند شان په فصاحت
چه د ربع مسكون لوړه | عاقلان سره همغاړه
په مجلس د شاه محمود | جمع ناست وو په هم بود
گفتگو ئې په بند شان كړ

٥

هر سبك شيرين بيان د | لوستل خلقو كتابونه
عجيبه حسے كتابونه | يو كتاب عجيبه زيات
وه مجموع الحكايات | چه لوستي شه د اكتاب
په كښې چيښ شه هيښ باب | چه يو بلغ په د اد بياد
په بند شان عجيب زياد | او

اوشهبال د باغ بادشاه دے فریادرس د هر دادخواه دے
بناپیرو کښ مشهور دی په هر ځای دده مذکور دے
ده هغه په کور کښ لور ده چه پوره په حسن نور ده
پر مین یو شهزاده دے په عالم کښ سرزده دے
دیر غمونه په ده تیر شول تخت وبخت ئی وازه هیر شول
په اخوئ بیا موند له دوی واصل شو یو له بله
دا بیان چه د ابر سیر شه د سلطان په غوږ کښ تیر شه
دیر په دا بیان مین شه صبر لاړ تو ند غمجن شه
نور حسن ته ئی ورومه داقصه کړه رامعلومه
په هر ځای کښ سعی کړه ته داقصه ماله راوړه ته
اوکه ندوا اوړه حسن سر به ستا پریکړم له تن
چه حسن ته په دا شان د بادشاه وشه فرمان
حسن وچه ای سلطان مهلت راکړه مهربان
بادشاه وویل في الحال دی مهلت در ته یو کال
حسن سل کسه خاصان کړل په هر طرف روان
وچه کوزئ په جهان کښ په طلب د دے داستان کښ
که خبر راوړی څوک ما ته مرتبه به ئی کړم زیاته
سل اوبنان به د سرو زرو وله بار کړم د گوهرو
مقرب به د درگاه شی د عالم به پشت پناه شی
بیائی بوز هم سل کسان کړل د خان سره روان
یو خوا بل خوا گرزیده چه په مصر ورسیده
له هر ځای کړه پوښتنه دا احوال ئی کړه غوښتنه
مصر یانو په دا شان حال حسن ته کړه بیان
چه یو پیر له ژوند مور دے دد سوو کالو زوړ دے
راغی اوس له کوه قاف خبر دار له هر اطراف

٦

سیلانی د هر دیار دے
هم له ده پرسش پکار دے
حسن پیر له ورروان شه
هغه دم تر پیر رسان شه
نور حسن ته هغه پیر
په دا شان وکړه تقریر
د دمشق تو شهزاده وه
چه ئی توم فخ زاده وه
د هغه په خزانه کښ وه

په خاص کتب خانه کښ
عجیب نسخه یو کتاب
په کښ بنیلځ دی هر باب
چه پیر میاشت د رمضان
په کښ کابو د عیان
دوی کتاب د شهزاده کښ
په مجلس د شهر شیر کښ
لوی دوه پیروان ئې
چه شهزاده ئې خوشحال کړیدیم
خزانه ئې کتاب بیا ئې راوړیدیم

که هوښاهان ورد رومی
چه له پېر دا خبره
نور له مصر روان شنز
له دمشق بهرخای وه
هلته شپه ئی کړله تېره
وتی لاړ فرخ زاده ته
شهزاده ته ئی بیان
شهزاده وله جواب
وچه ګران دغه ستا کار دی
وچه دا کتاب ای زویه
مګر میاشت د روژی وینه
حسن وچه عرض لرم زه
لتوم زه په عالم
که داوی ستا په کتاب کښېنز
شهزاده ویل چه یاره
زبدة الحکایات نوم
چه حسن په حال خبر شه
نور ئی وسره له ځان
په دمشق کښېنز برزه اوسم
هم دی قصی په عشق کښېنز
خدمده چه شوله تېره
د حسن کمال عیان شه
ځان سره ئی کړزاونز
ناګهان د رمضان
یو کاتب حسن پیدا کړ

دا کتاب ترخوک ندمومی
حسن واورېده ظاهره
په دمشق ورسید نز
خوشنمای دلکشای وه
بیا چه ورځ شوه رابرسېره
د دمشق وشهزاده ته
د زړه حال کړی په بند شان
هسی ورکړ په شتاب
داوصیت راته د پلار دی
له هر چاپت کړی بویه
دا کتاب د بنکاره شینز
دا کتاب ورند ندوهم زه
حکایت د باغ ارم
نور به نه یم اضطراب کښېنز
دا قصه شته دی هوښیار
دا قصی واوره معلوم
غم له زړه ندئی بهر شه
چه شم پاتی تر رمضان
تر هغه چه مقصود یوسم
حسن پاتی شه دمشق کښېنز
په دمشق کښېنز لږه ډېره
شهزاده پری مهربان شه
سطر بخ دواړو به کاونز
میاشت بنکاره شوله په آسمان
په دولت ئی ډېر رضا کړه

پرهردم چه قصه خوان
دقصی کاوه بیان
دی بریسم ورسره کښېنز
برابرئ خلاصا ونز
قصه خوان قصه بیان کړه
کاتب کښېنز پرېښد سامان کړه
نور حسن هغه ساعت
شهزاده نه شو رخصت
شو غزنی ته د را روان

۲۰ خدمت کښېنز د سلطان
پیر ئولس میاشتی پس
لاره غزنی ته پیر هوس
چه سلطان ته ئی جنګله
قصد واړه واوړېدو له
سلطان خود چین د سروزرد
د ابراره مرغلرو
هم له هر جنس ګران ځنګ
چه بادشاه ته وه عزیز

بی لور

هسې نور نورا سبابو نه — چه نې نه شي حسابو نه
سلطان کل واره بخشش کړل — وحسن نه ئې پیشکش کړل
تو ولې ئې زیات منصب شه — په درگاه کښې مقرب شه
پس له هغه دا داستان — په دربار کښې د سلطان
همیشه لوستے کیده نه — عام و خاص برآوریده نه
انشا مه اوره دچا نوره — داحمد تقرين تدكوره
شعر ئې بحر بې پایان شي — په عروض او په میزان شي

قصه د سیف الملوک شهزاده بیانول

روایت کړے راویان — دا اخبارو نا قلان
چه په مصر کښې بادشاه وه — د عاجزو تکیه گاه وه
په نامه شاه صفوان وه — سر بلند عالي مکان وه
ډېر ئې زور او شجاعت وه — مشهور په سخاوت وه
په بند شان ئې سلطنت وه — آراسته په زیب زینت وه
سم قامت د سرو شان وه — نوم تللے په جهان وه
خزانه وه دده ډیره — له حساب له شمار تیره
په هر ځای او په هر لور — وه دده د عدل شور
کاروبار ئې عدالت وه — ترخوشحال رعیت وه
وزیران ئې دوه وه کښ — خوش نما ئې خوش نفس
یو صالح بن حمید وه — چه قولاً فعلاً سعید وه
بل زرنوش بن هامان وه — هر یو وه په بند سامان وه
واوره دا عجب بیان — وې په کور کښې د سلطان
څلور سوه مستورانې — په بنا یست لکه حورانې
او دوه ورنه فرزند — شوې نه وه پت څرگند
تل به پروت وه په خفقان کښ — په افسوس او په ارمان کښ
یوه شپه پاسید او چت — په اخلاص او په بند نیت

پس له دی مرشد ملال — له ما واوره قیل وقال
ور د روم د قیصر غواړه — چه یو ځای شئ سره دواړه
لا هغی نه به فرزند — مولا درکړی دل پسند
پر دی حال چه خبردار شه — نور له خوب شاه بیدار شه
شکرانی او خیراتونه — ډیر ډیر ورئی کړل مالونه
فقیران ئی ډیر ماړه کړل — پر زړه ښادئی لوی واړه کړل
د قیصر د پاره ډیرے — خزانی ئی کړے برسیرے
شاهانه نانی بی شمار — بی حساب څو خرواره
عجائب څیزونه نور هم — ده کړل جمع ډهر لور هم
پخه زر قطارونه — داوښانو مهارونه
وو به لاسر د غلامانو — د کلرنکو مهرویانو
تازی اصل زرآسونه — زرین زین او زین پوشونه
شاهینونه زر تیز پو — چه په ښکار کښ وو بهتر
هم پخه سوه بازونه — سنبال شوی په سازونه
نور د مصر اسبابونه — چه ئی نه شی حسابونه
مصری توری تیرے سارے — ښې نوځے نیزے دراځے
وسله نوره په تناشان — چه څه وه هغه زمان
شب چراغ مرغلرے — په قیمت کښ وے نادرے
ګوسفندان درانه لمونه — ډیر غوایان څاربرورنونه
خلعتونه زرینه ډیر — پوستینونه پشمینه ډیر
نور فرشونه پالښتونه — قماشونه قالینونه
داچه واړه خو مذکور شو — د قیصر مخ کښ حضور شو
اول خلئی په سلام کړ — پسی عرض ئی حال تمام کړ
د بادشاه د خوب خبرے — د فرزند ئی کړے ظاهرے
په کتاب کښ په دا شان — راوی کړے دی بیان

چه د روم د قیصر لور وه
سرو پیغو نما مرغوره وه
ملاحت ئی بی پایان وه
صباحت ئی صد چندان وه
په قلم پایه زبان ځواک
وبه نه سره د ایپنا شوه
چه لمعو ماه دا پیدا شوه
را پیدا پیدا د نیا شوه
له آفتاب هم چندانه

منوره وه
په دو ښائسته وره د ښائسته
شو د ئی هله په هم یو لور
الغرض چه شوه کامله
په بلوغ ورسیدله
هم بون ئی نورانی شه
کاربوبار دغو ئی حیرانی شه
بو په سل ئی لطافت شه
صد چندان ئی هم صفت شه
وصورت

د صورت پری پیکره
القصه قیصر طیاره
لکیا کړی کاریګرو
فیروزه او زبرجد هم
لاجورد په کښی پیوند
تخت ئی ایښی په دلمیان
په کښی رنګ رنګ وو ظاهر
هم پوښونه ئی رنګین وو
په هر پوښ باندی نادر ے
پرښنده لکه سیماب وے
جوړ چه سر اے جنت مقام شه
په مانړۍ کښی دروازه وه
ری به سر ترِ نه بهر کړه
هر طرف ته تماشا کړه
او شاه حکم کړی و نه
دوازه ستړګی ئی بیرون کړی
همیشه د غه روز کاروه
چه بیان صفت ئی داوه
القصه چه قاصدان
روم ته لاړل برابر
پیشکشونه ئی برسیر کړل
راوی هسے په دا باب کښی
چه قیصر ته وه منظور
داجنۍ چه څوک خوښ کاندِ
قاصدان چه د صفوان

په تخرو په نازو دلبره
کړه مانړۍ ددی دیاره
په کښی خښتے وے د زرو
یاقوت لعل زمرد هم
هر خواځای په ځای خړګند
لکه نمر هسے روښان
بیش قیمت جواهر
په شان شان پشمین رښتین و
شب چراغی مرغلرے
منوئے تر آفتاب وے
د جنۍ په کښی آرام شه
پوره ته پاس په اندازه وه
د روم ښهر ته به ئی نظر کړه
تماشائی د هر ځای کړه
که چادے ته و کاتنه
سور په و یښوئی لرمون کړی
درست جهان پوځے خبر داره
نوم د ده روح افزا وه
کړل روان شاه صفوان
وار ه وراندِ د قیصر
له نظر ئی کل تیر کړل
نقل کاندِ په کتاب کښی
دواده اختیار د لور
قیصر خوښ به وے ورباندِ
شول حاضر هغه زمان

روح افزا وه چو به کیږی
خضر وے لره راغلی
په دنیا او آخرت
که د خوښ روی په ښیرینی
دا ابر در پر د حضور کړی
که صفوان بادشاه قبول کړی
چه لر جوړ شوه پیداره
د قیصر شوه طلبګاره
تا لکهانه ورته پلار

ر د ځانان ونعمه حقدار
چه د راغلی دا زمان د
قاصدان د شاه صفوان د
ورته ورسره بیرته بیاره
وه شوه لره د مراده
چه خبر شو په ښیر ښان
یا قیصر په حج د قاصدان
وینا خلک انعام ئی ورکړه
هر دولت اکرام ئی ورکړه
نیر خلعت
نوری

نور بئ زر زر په تلوار
اسبابونه ئې آغاز کړل
د زر بفتو پوشاکونه
بنی خیمې دیرې رنګینې
ورسره ئې کړې طیارې
په زبان شیرین زبانې
په تلو زر کې خوش رفتارې
په صورت نقش د چین وې
په خوبئ سترګو خونکارې
په میدان کښې شهسوارې
غلامان هزار امرد وو
عجیبه وو په جهان کښې
هم مشفقې دائیګانې
عاقلان بنه وزیران
قیصر داواړه سامان
لور ئې مصر ته رخصت
چه د مصر په حد بانده
څوک سړی ئې واستاوه
خو په مصر شاه صفوان
وهر ځای چه سازنده دي
که څوک لوی دي که واړه دي
که د مصر خوک خوبان دي
صاحب طبع صاحب حال وي
تول دې ووځي سنبال
چه دا هسې شان فرمان شه

د واده کار کړ طیار
بساطونه ئې بنه ساز کړل
بنه مخمل اطلس فرشونه
بنی جامې صفا زرینې
په زرګو نو خد متګارې
په دهن غنچه دهانې
په سرو شونډو شکر بارې
په جبین زهره جبین وې
په بڼو مردم آزارې
په حرم کښې پرده دارې
لکه سرو سهي قد وو
نادران وو په دوران کښې
له مورو پلار مهربانې
کاملان بنه امیران
کړه د لور سره روان
کړه په ډیر عزت حرمت
دوی قدم کیښوده وړاندې
شاه صفوان ئې خبر کړه
هسې شان وکړ فرمان
رقصنده که خواننده دي
که خوانان دي که زاړه دي
پاکه وینځې غلامان دي
باکمال یائې جمال وي
دوی په نیت د استقبال
کل مخلوق دستي روان شه

هم واده چه موزون
استقبال ته بیا مرادکان
وریسې شاه صفوان
هم جمله بنه سامان
پر دا هسې شول روان
استقبال ته شو ورورو
کیا خونه د سرو هره
دا لعلونه دکه بنا نیول
پر دولي

هر طرف ته تار پتار شول
په عزت او په پالنه
شول له مصره ته د ننه
په حرم کښې د صفوان
شوه داخله په بنه شان
پس له څو مده فرزند
وله ور که خاوند
فرزند هسې منور وه
له شمس برابر وه
په جهان

پہ جهان د حسن طاق وہ
پہ غبغب یوسف ثانی وہ
پہ رخسار د گل شقہ وہ
پہ قد سرو د چمن وہ
چہ پیدا هسے پسر شہ
خوا نے ئی پرانستلے
دولتمند شو خواران وارہ
نورئی زر پہ هغہ درنگ
چہ راجمع فاضلان کړئ
هم رملیان هم د جفریان شے
ټول د ولتوئ ستورے
کتابونہ پرانستل دوے
ساعتونہ ئی پہ شمار کړل
حال احوال ئی بند بشکارہ کړ
متفق شو عالمان
نوم ئی خوښ کړ پہ سلوک
ولی بیائی کړہ ظاهرہ
شهزادہ چہ بند کامل شے
ورتہ پیښ بہ لوی خفقان شے
رنځ کلفت محنت بی شمار
شی ورپیښ بہ غذابونہ
دیر بہ وکړی سفرونہ
هسے شان بہ سرگردان شے
ورک بہ شی لہ بادشاهت
لہ خپلوانو بہ جدا شے

مشهور پہ درست آفاق وہ
پہ لب لعل رمانی وہ
پہ گفتار دهن حقہ وہ
پہ صورت د گل بدن وہ
د صفوان کور کښی اختر شہ
پہ هر چائی ولوستلے
لہ هر چانہ نیستی لارہ
حکم وکړ پہ دار نک
عالمان او نجومیان کړئ
هم د جمع حکیمان شے
د فرزند طالع د کورے
اسمانونہ ئی کتل دوے
حسابونہ ئی طیار کړل
بیا تکرار ئی څو بارہ کړ
حکیمان او نجومیان
شهزادہ سیف الملوک
پس لہ نوم دا خبرہ
دیار لسم کال کښی د خوار شے
دی بہ سر پہ بیابان شے
شی ورپیښ بہ بی اختیار
پہ خشکئ پہ دریابونہ
پہ دشتونہ هم پہ غرونہ
چہ خپل خان بہ پرتاوان شے
لہ دے خپل سلطنت
پہ سفر بہ مبتلا شے

پس لہ خوشگا دو بار
دے بہ پیا مومی قرار
یو بہ فضل د اللہ تعالیٰ
دی بہ مصر کښی پادشاہ
چہ د دہ اند د صفوان
احوال دا وارہ نشر بیان
نوری ئی حکم د زوکنہ
پہ دا ئی نی وسپاری نہ
وچہ اے دائی عاقل

پہ خپل کسب کښی کامل
کہ دے دوے هلیلیا مان
پہ ترتیب او پہ ښہ نشان
راوی هسے کړے بیان
د صالح نبی خوب او کړ
وزیر فرزند
مرتبہ هغہ وصالح چرتہ
چہ پیدا وزیر زادہ شہ
پہ یو سرو ازادہ شہ

په صالح بانډ صفوان
دده نوم سعد ملوك شه
په یوه زانګو دواړه
غرض دا چه لږه ډېره
دواړو زده کړلے خبرے
پس له هغه شاه صفوان
چه داوس د دوی دیاره
دهر علم عالمان
خلقو واړه کاروبار
دوی لې دواړه وغوښتنه
نور خلویښت هم هلکان
لاړل دوی سره داخل شو
شهزاده په لږ روزګار
عربي ترکي فارسي هم
یوه په علم په ادب شه
عالمان ئې شاګردان شو
دریو علم خزانه شه
پهلوان په هسے شان شه
په سورلئ کښې هسے برته
دقوت ورته طاقت
په ښه شان او په ښه ساز
په ادب او په هنر
دشاهانو خوی خصلت
چه د دیار لس کالو شه
په قامت کښې شمشاد قد وه

هسے شان وکړ فرمان
په ښه شان په ښه سلوك شه
دوی دِ زانګي لاس ترغاړه
مده شوله په دوی اتیره
په مثال کښې مرغلرے
حکم وکړ په دا شان
مدرسه شي ښه طیاره
شي دِ جمع دانشمندان
برابر کړ په تلوار
مدرسه کښې شول دننه
په ښه شان پریریان
مدرسه کښې ور داخل شو
حاصل علم کړ بسیار
معما سخن رسي هم
خبردار په هر مطلب شه
فاضلان ورته طفلان شو
په قوت کښې مردانه شه
چه مشهور په درست جهان شه
چه شاهین غنډ تېز تر ته
دچاندوه د صورت
تیرانداز شه نیزه باز
ښه پوره وه برابر
وه پرده کښې سلامت
نور لئ شور د حسن وه
په رخسار کښې خورشید خد وه

قو د لقمان ئې و و چرند
د ځیحي ئې زړونو کښې بند
په ښه و کښې مرګان تېر وه
په ښو کښې عالم حیر وه
په نعوذ کښې بلا ناز بر وه
په قدم لره ادب پېر وه
په رفتار د کبک باغ وه
په زینت کښې شبچراغ وه
په جلوه کښې خوش [illegible] وه
[illegible] زبان خوش

۱۳

ډېر د ن اهل دل تیر وه
هوښ ور وه که یو ځوان وه
نو د وه ځوان جانان و جان وه
په جادو کښې جادو ګر وه
په هنر کښې هنرور وه
چه په هسے شان سینګار شه
شهزاده صاحب کمال شه
د صفوان مقصود حاصل شه
چه په خوی هسے قابل شه

ده دننه عبادت کړه
شهزاده چه پادشاهت کړه
یوه شپه شهزاده یار
اوچت پاخیده هوښیار
هغه دم هغه ئې مان
خزانے ته شه روان
پر صندوق ئې ولید نه
د مرجانو قلف پروت
شهزاده قلف لري کنه

بیا صندوق ئې پرانستہ
کړو له ئې نښان اره ده
چه پکښې ولیده اېښکاره ده
شاه مهره د سلیمان
سم کوتنه ئې بنه نښان
یوه ئې پرانستہ
بیا بقچه ئې پرانستہ
ترې جامه ئې و ولیده
صورت ئې ولیده
شهزاده لوی آفت ولید
چه په

نور استاذئ بنه رضا کړه
ور عطائې سیم و زر کړه
بیا مجلس ئې کړ طیار
د بوکیان غوایان او بنان
که قاضیان که عالمان وو
که حاکم وه که امیر وه
ورکړی لوی چه څوک پیدا وه
ټنجی نو شول کل روان
کښیناسته په بنو فرشونه
جشن هسے په ترتیب وه
ځای په ځای وه خو قسمونه
حکم وکړ شاه صفوان
نعمتونه د خلق خورینه

ډېر دولت ئې ور عطا کړه
ور پېشکش ئې در گوهر کړه
خلق ئې وبلل بسیار
کړل ئې زنځ په میدان
طالبان که فاضلان وو
که غنی وه که فقیر وه
که ناتوان وه که توانا وه
خاص دربار ته د صفوان
شول ماړه په نعمتونه
چه د هر چا ته نصیب وه
رنګا رنګ بنه خوراکونه
چه خلو ښت ورځې داشان
هیڅوک کوږ ته د نه ځینه

پادشاهت او ملک سیف الملوک ته سپال د صفوان ایډ کوټ کیناستل

چه خلو ښت ورځې شوے تیرے
خلعتونه ئې بهر کړل
شاه صفوان تمام اختیار
شهزاده ته وسپارینه
کړل حاضر ئې وزیران
هم لښکر شه خاص و عام
شهزاده چه په آرام
د صفوان خاطر په بناد شه
نو د خلوت ته شه دننه
وچه اوس به عبادت کړم
په خلوت کښې به د ړون

خوشحالي وشوی ډیرے
وارو خلقو له ئې ورکړل
هم د ملک هم د هر کار
هم تاج ور په سر کنه
سرداران او امیران
شهزاده ته په سلام
تخت د پاسه شه مقام
چه پوره ئې د زړه مراد شه
په یو کوټ کښې کښیناسته
چه تو سنه داخوت کړم
پروت وه خدای ته سر ټکون

چه هر ئی شاه مهره کړه
صورت یو ید دوه زیبا شه
صبر لاړ طاقت ئی ورك شه
هوش آرام ترې نه جدا لاړ
شهزاده چه دا خیال ولید
اور ئی بل د زړه په سر شه
په صورت کښې ئی اور بل شه
په خیالي صورت مین شه
سترګی سرې په زړه حیران
لاړ له عقله بیګانه شه
لاس ئی یوړے په ګریوان کړ
سرګردان لکه مجنون شه
غورزاوه ئی په دا خیال
دبلا په خوله کښې کیوت
شپه چه تیره شوه سحر شه
یو خوا بل خوا ګوزید نه
پروت په خاورو کښې خراب وه
پټې سترګې خوار وزار وه
سعد ملوک لاړ شه چالاك
ورته دا ئی واغوستله
چه خبر بادشاه صفوان شه
لاړ په شور په زوك په کوك
ډېر زر غین ته ئی را کښېنسته
وچه اے خما دلبره
څنګه بینې درته احوال شه

هم ئی کوته ور سره کړه
شهزاده مین پرې لا شه
عشق ئی دروند عقل ئی سپك شه
غرق په بحر د سودا لاړ
سازئی هسې جال ولید
نا قرار مجنون او تر شه
عقل فکر ئی جلبل شه
لکه بت بی روح تن شه
ملوه افسوس ارمان
که هوښیار وه دیوانه شه
زر ئی څیرې خپل ګریوان کړ
ګاه درون ګاه بیرون شه
سر په ځمکه په دیوال
نور بی هوش په ځمکه پریوت
سعد ملوك ناګاه خبر شه
شهزاده ئی بیا مومند نه
بی طاقت هم بی تاب وه
جامې څیرې وران دستار وه
زر ئی را وړې پوشاك
هغه زوړ ئی ترې وکښنه
ګډ په شور او په فغان شه
وئې لید سیف الملوك
ورته هسې ګویا شنه
اې خما د زړګي سره
دا په څه د زړه ملال شه

[illegible diagonal margin verse, upper section]
ترجمان ملوك دا بخت وا
شولائق د تاج و تخت وا
ښتا بچے چا روبدون وا
بی لڈ تا م حال د بون د
ښتا چه حال د هسې شغ شه
اوس خراب ئی څنګه ذران شه
لیس له هغه شاه صفوان
را طلب کړل طبیبان
دوی چه حال ته بدلا شه

شهزاده بدنی لیوه
تو لوړے چه دا ساعت
د هغه ئی نښته د صورت
او په زړه ئی درب خبر دے
ګوښه غم دے کړ ضرر د
خلور ورځې ترو بی هوش وه
په فریاد په جوش خروش وه
ورد نیا ئی خوند خوراك وه
په خفقان او په خیال وه
کړ

لکه پانړه رپیدنه
لړزیده او رپیدنه

چه بادشاه او امیران
پهٔ دے کار کښې شول حیران

اتفاق په هسې رنګ
وکړو او هغه دې رنګ

وچه دلته څوک جنئ ده
اوس په خیز کښې نخوانئ ده

حکیمه نوم ئې یادیږے
په هر علم بند پوهیږے

نور هغه ئې وغوښتله
شهزاده ته کښیناسته

لاس ئې کیښو نبض پاند
چه احوال ئې معلوم کاند

وچه دا غریب حیران دے
عشق وهلے سرګردان دے

چه ته ده دے خبر لیدے
عقل هوش دې ورنه تلي

وچه کور خالي کړے ماته
تاسو لار شئ بله خواته

شهزاده چه ماسره شے
حال به ټول راته ښکاره شي

چه خما په مشغولا شے
په خبرو به ګویا شے

پاتې دوی شو شره دواړه
نور عالم تر لار لے واره

د ده سر په ورون د پاس
کیښو دے لره خپل لاس

وچه واوره زه پوهیږم
په احوال دے بند رسیږم

نشتر شک چه ته مین ئې
خکه پروت هسې غمجن یې

ولي داسې وایم تاته
که دا حال دوو ماته

زه به ستا مقصود ادا کړم
بند ربتنې وعده دا کړم

او که نه وې ته قیامت
ته به پروت یې بې طاقت

بې طاقت بې محالے
تل به پروت یې ته ملال

شهزاده ته چه خبر ے
جنئ وکړے زړه ور

هم ئې ډیر ډیر نصیحت
ورته وکړه په حکمت

د ذرے قدر اثر
پړ و نه شه لږ ډیر

پروت بې خود وه په حال
لکه نقش د دیوال

پس لر هغه په بل شان
بیا جنئ جوړ کړه بیان

وچه ته ګړد بوستان بې
نه د هر چا دل وجانیږي
بخت د ستاوی خلیدونکی
محږ د ستاوے خندیدونکی
نور د دستا لږ زړه نرغم ورے
یار د ستا سره همدم وے
څخان د وسے دیوانه که
چه لکه ماد بیڅانه ګمه
حال د زړه د دوکه جانان

16

ما نه پټه کړه مهربانان
دا ئشته حال کړو د اشنکان زړه
[illegible]

او که نه چه بنا پیری وی

په شیبه کښې به ئی بنده

او که وی بنی آدم

په هنر او په حکمت

غرض دا چه په شان شان

بیا ئی وړو وړو په حکمت

چه سکندر نامه سلطان

سلطنت ئی ډیر عظیم وه

وو او وه ئی فرزندان

تل دعا به ئی کوله

لوړئی نه کیده هیر وه

چه په تیر شو شپیته کاله

نور په مینه پاک مولا کړه

په زنک هسی تخلید له

مخ ئی هسی وه گلگون

زنخدان ئی لکه سیب وه

په چشمانو کښې آهو وه

په سر و شونډو شکر باره

خدای ورکړی ډیر جمال وه

جمیله ئی گیسو د نوم

پلار د دے د زړه دیاره

په بنه شان ترکیو چاپیر

رنګارنګ میوے گلونه

هر دیوال ئی وه رنګین

په جمعه کښې په مخ پله

راضی ستا په دلګیری وی

تاله را ولم خوشګنده

خو ته هیڅ مه کوه غم

کړم حاضر به دا ساعت

حکیمی وکړ بیان

ور شروع کړ حکایت

وه په ښهر کښې دیونان

لوی بادشاه د هفت اقلیم وه

هر یو ګل وه د بوستان

ده له خدای لور غوښتله

په دی فکر کښې دلګیر وه

لکه دے رنګ له دی حاله

یوه لور ئی ور عطا کړه

چه تر حوره شرمیده له

چه له وصف وه بیرون

ساز و بازئی په ښه زیب وه

خلقه سپی لا هو وه

په تلو زړکه خوش رفتاره

زیب زینت ئی په کمال وه

وار و خلقو ته معلوم

ښه ماړی ئی کړله طیاره

شاه باغونه ساز کړل ډیر

خوش آواز په کښې مرغونه

لکه ښه نقش د چین

شهزادګی باغ له ورتلله

کله چه سلطان تری آرام کړه

کله کور ته ئی بیرته منعا کړه

یوه ورځ چه شو له دوه انه

سیلینه ئی نا کړه کهانه

د باغ ګل چه نه بی ئی رفتار

په دوه هر چه نه بی د بازار

په یو ساعت ئی حضور ...

بادشاه هم داد و اوچت شه

د شهزاده دولتی جیره کانه شه

17

یو ورځ کی ئی ولیدنه

د ارزو ګوی په دوکان ننداره

ډیر عالم ترې چیو راستو

په بنا نشت لکه غزوه

شان سامان ئی برابره

خوله ئی قند نبات ئی لب دو

عام و خاص ئی په مطلب دو

چه له ده نه خواپېچا ئیږدو

په له سر و مال ئی ... دو

شهزادګۍ ته چه ښکاره شه
چه ئې ولیده محبوب
ځان ئې جوړ کړله یو وار
شو ور وړاندې نام و ننګ
چه مازیګړ ته نژدې شوله
خفه ناسته وه ملاله
که به چا ورته خبرې
ډېرې جواب نه ورکاوه
چه څو ورځې لږې درې
حال ئې وار په بل شان شه
رنګ ئې زیړ حال ئې زبون شه
جمیله په رنګ لطیفه
چه دا هسې حال ولید
نور ئې وکړه تپوس تنه
که ته حال را ته بیان کړې
او که نه نو به د بې بوي
شهزادګۍ ورته خبره
وچه حال به وایم تا ته
دایي وچه واوره لوړې
زه به کله نیک خواه ستا یم
شهزادګۍ و دایي مورې
بوزرګ ورم په دا کار کښې
زړه او روح مې په یو وار
تش کالبوت یم را غلې
که حاضر نه شې دا څوان

ددې زړه په تا ره شه
زړه ئې شه په غم کښې ډوب
چه کړي چغې بې اختیار
ځان ئې ټینګ کړ هغه د رنګ
په پالنګ کښې وختله
بې طاقته بې مجاله
کړې خوبې لکه شکرې
نه ئې پاس چا ته کاته
شهزادګۍ پانده شوې تیرې
رنګ ئې زیړ لکه زعفران شه
سم قامت ئې لکه نون شه
له وېښتر شوله ضعیفه
د دې تن ئې ملال ولید
چه دا حال شه ستا له څه نه
پیخیل ځان به کار آسان کړې
په خفقان کښې به کړېږې
هسې وکړله ظاهره
که ته نه وایې بل چا ته
سر اسر په حسن پوره
چه حال ستا به چا ته وایم
واوره ای څما غم موره
دې لیدلې په بازار کښې
د واړه په ښوولو په بازار
په پالنګ کښې ناسته د لې
ګران به شي څما ګنډران

په بازار د کښېنوې صحرا څون ئې ګډ
په څولو ئې د ښو د ګما ځان د
چه طاقت د دعا او درزه
پس له دې نه لوم نو زه
او س به جېنې ...
خواه مخواه ...
چه دایي شوه ...
د جنې په حال خبر ...
نو د ئې سا وو نه حکمت کښې

د شروع ده د نصیحت ...
... اوری نادانه
... وړانه
... سلطان
... حکمران
چه ترنو ...
شهزادګان ...
ستا د وصل ... ارمان ...
... عاشقو
... فقر

داکوم عقل کوم هنر کړے
که دیو خوبن دے دا یار
چه جنۍ نه دایی بانډه
نور ئی جوړه بهانه کړه
وچه اے دایی نیک نیتی
واخله داچه ملک ومال دے
چه بنکاره ورته دولت شو
نور ئی وچه لوړ اسمان پاس
زور څادر ئی پیدا کړه
چه خر بازار له ورشو
چه مقام له د زرګر دے
دایی وراندے ودرېده
بیا دایی جوړه سودا کړه
څه قدر زر ئی بهر کړل
وچه ښه غمی پیدا کړه
چه زرګر به څه هر کړل
چه زرګو به هر یو خیز
دی به عیب وربانه کینو
چه دے دو جګوه ډیره
نور زرګو شه ډیر په قهر
وچه اے بی شرمی ښځے
زید دو واخله دکان پرېږده
چه دایی داواوریدنه
وراخه چه ځو به بیرته
نور جنۍ کړ څادر یو ځنه

چه ته مینه په زرګر کړے
تا به ورنه کړی خپل پلار
شوله بوه چه کارنه کانډه
ورته ئی وراندے خزانه کړه
ای نیکخوئی نیک خصلتے
واړه ستا به تا حلال دے
ددایی هر نصیحت شه
زړه خالی کړه له وسواس
په جنۍ ئی واچاونه
د زرګو په حال خبر شو
دواړه لاړے برابر دو
شهزادګۍ تماشا کړله
ځوان سره ئی مشغولا کړه
د زرګو په لاس ئی ورکړل
زبرجد او یاقوت را کړه
دی دایی به بیرته ورکړل
ورته وویسته عزیز
بیازرګو به ئی ورپېښو
سره شوه له حده تېره
ورته وئی وه په جهر
دلته څه کړے ولی نه ځے
په خپل لوړ قدم کیږده
شهزادګۍ ته ئی وکاتنه
څه له ناستے یو زرګو ته
مخامخ شوه د ځوان لوری ته

ورنبکاره ئی کمال حسن کړه
د ځوان زړه ئی تاراج کړه
چه زرګر ولید جمال
وړاندے ئی شو طاقت بېځایه
سهه پریوت او بېلا شه
پری ئی یاد او پیژاند
چه شر یاتی بی هنر کړه
نسکور پریوت بی اختیار
لاس ئی پورے نیولی کړ

د زړه ئی ځنے خپل کړ
پرو هلو د تندی کښېوت
د دکان پر پڅ کښېوت
تیغ څراب دعشق کښېوت
تاسپر تاد پریوت بېهوش
شاګرد او پر چه داحال
د استاد ولید ملال
هغوی هم پر شاشو
له زړه ئی وړولی شو
[illegible]

نور زرګوئی کړ زړ پورته
یوه ښځه د زرګر وه
خدای ورکړے ښه جمال وه
چه زرګوئی بی تاب ولید
نور یو اخچی ئی زرګر کړ
ورته دوی واوره ځوان
ته مین ئی زه پوهیږم
که د حال د زړه ملال
کاروبار به برابر کړم
زرګو وچه په ښه شان
یو دوه ښځې ښکاره شوے
بوے ماسره سودا کړه
په سودا کښې ئی خبرے
ماته مخ وګرزاو نه
هغه بله رانږدے شوه
مخامخ شوه ودریدله
ګرندئ شوله روانه
ښځې وے په دستور
ورسره چه تالیدله
زرګو وچه دا ساعت
اوس به خنکه وشی کار
ښځې وچه را ښکاریږے
شهزادګۍ په زړه غمجنه
جامې واغونده طیار شه
له مانړۍ نه کیر چاپېره

دستئ بوی ته خپل کور ته
پوهنده په هر هنر وه
هم جمال ئی کمال وه
په بد حال ئی خراب ولید
خلق واړه ئی بهر کړ
ته له ځان شوے بے ځان
ستا په واړه حال رسیږم
بیان ماته کړه فی الحال
بل به تا سره دلبر کړم
ناست وم زه په خپل دکان
راغلے ماته ودریدلے
وچه دا واخله دا راکړه
څه قدر وکړے زړه ورکے
دیره قهر وه ته کنه
له پردے نه بی پرده شوه
بیا دستی روانه شوله
زړه ئی واخسته له ما
یوه شتره د بادشاه لور
داد دے دا ئی کیدله
زر شه جوړ کړه مصلحت
چه ئی وو وینم دیدار
ماته هسے معلومیږي
ده په تا باندې مینه
زه مانړۍ ته په رفتار شه
درووره وګوره ته دیره

چه څه حال شو د ریان
راشه عاشق کړه بیان
زرګو لاړ شو روان شو
کور د مانړۍ ته ودریږو
له مانړۍ نه چه بهر
شهزادګۍ ښکاره کړه سر
دا زرګوئی ولیده
چه مانړۍ ته ولاړ دو
دې پرده کړله زر پورته

٢٠

ځوانان لویږي
وګړی ئی د ځوان بنکاره کړه
اول سرئی او بندن ئی کړه
ځوان ئی موږ ئی بنکاره کړه
دوباره ئی د ځوان ترینه
دنبنکاره ئی لوانغوستم
سوانبیض ئی اولوستم
ځمکه ئی اود غلی غلم
بیامانه ئی او وتلم
دستی زور راو
دی

دے اغوستی توررنګین وه
دوباره ماڼوئ ته لاړه
داو بو پیاله خوشبوید
یو دستن لی بنکاره کړله
بیا دسرو کالو دستر هم
نور ماڼوئ ته لاړه شوله
چه څه قدره تیر ساعت شه
بیرته کور ته روان شنه
بنځی وجنی غمګیسنه
واپی دا قمیص ګلکون
هسی یم په مینه راستنه
چه بنکاره ئی ورته سرکړ
که په مینه کښی مرسرخی
او پیاله چه ئی خوشبویه
واپی باغ له مرداد روم
اوله ستنی دا خبره
چه راځی سره دخان
دغه لار کښی به سلګو نه
هغه پریکړه په سوهان ته
شوه بنکاره له تور رنګینه
خوان وبنځی دا ساعت
بنځی وچه طیار یږه
یو سوهان واخله په لاس
اوکه باغ کښی خوکیدار
ناګهانه ئی حصار کړے

هم په لاس کښی ئی اینی وه
راغله ززیږ لکه غاړه
دغه خوان ته ئی کړه تویه
خوان ته نیغه ئی نیوله
دی بنکاره کړه بنایسته هم
دروازه ئی وتړله
زرګو یوه شه چه رخصت شه
حال ئی بنځی ته وائینه
لږی هسی په تا مینه
دے څما د زړه په خون
چه په وینو کښی یم ناسته
تا ته دا سی ئی خبر کړ
په دادم د برابر ځی
ستا طرف ته کړه تویه
داو بو لاړه بیا مومه
شوه معلوم به نه ظاهره
بنه تیره راوړه سوهان
اینبی شوے دی میخونه
بیا به راشی په بنه شان ته
چه په شپه د دا کار شینه
دتلو جوړ کړ مصلحت
زر شه شپه ده روانیږه
نور ورځه مه کړه وسواس
چوے شی په تا بیدار
هغه ځای ئی ګرفتار کړے

خوکیبد اروله حضور له
هسې چه کیږی ما خبر کړه
یا انه مه شم نا امید
تا به حلاص کړم له قیده
بیس له هغه خوان روان شه
دماغه بیه په لوړ روان شه
چه ماځدی له ... پیدا شه
په سوړی کښی له لاله شه
په حلقه بنه حلقه‌نوبه

چه په باغ د ننه شنه
زر لی پریوتو ...
هر طرف ته ئی کاتنه
څخوکښی ناست په آرام شه
حوض په غاړه ئی مقام شه
ناګهانه شوروشر پوه ته
خوان نظر کړوه هلو ډه ته
شمزادګی ته شو لیدا
دیښارنګ بنه آواز و

۲۰

په افسوس او په ارمان — شهزادګۍ ویل دا شان
ای خمایاره شیرین — کبرجن نازنین
دا ښکاره دواړه چشمان کړه — ورک خما له زړه خفقان کړه
ستا له غم په نارو یم — په زارو زارو زارو یم
په فریاد او په ژړا یم — په غوغا په واویلا یم
ځوان چه واورېده آواز — هسې شان په سوز و ساز
خوند ئې ورکړ هسې شان — چه له ځانه شه بې ځان
خوشبوئې د باغ هم ډېره — شوه د ځوان دماغ ته تېره
خوب غالب ور باندې شند — او ده هلته ولوید ند
چه سرود مجلس تمام شد — خلق ټول په خپل مقام شد
شهزادګۍ په زړه غمګینه — پورته شوه د یار په مینه
یو خوا بله خوا کږزله — تماشه ئې د باغ کړله
ناګهانه ئې کاتنه — پروت زرګر ئې ولید نه
ورته ودرېده حیرانه — شوه د ځان سره ګویانه
وچه اوس که ډېر بیدار کړم — په خپل ځان ئې خبردار کړم
دی به وائې د شاه نوري — څنګه سپک لړی دستوره
نور ئې یو خوا بل خوا ښکار کړه — ډېر آرام ئې د زړه خپل کړه
ځر میوه ئې ورته کښېښوه — دائې ښند ورته پرېښوه
بیا تر د ځړه وانه شوله — په مانړئې ننوتله
شپه چه تېره شوه سحر شد — زر له خوبه ویښ زرګر شد
په ډېر غم په زړه زبون — داغی کوړ ته شه دورن
چه د ښځې شه نظر — خپل څښتن ته برابر
نور ئې زر هغه زمان — وڅښتن ته په دا شان
چه جنئې ئې ته شکل کړې — سوړ ئې ډېرې له تاو یمې
د میوې د خوب بیان — چه زرګر وکړ عیان

ښځې وچه واوره ځوان
ته خبر به کړې له ځان
دا میوه ده د بلا ده
دائې تا پوسه خنداده
یعنې دا چه خوب کوې ته
مینه پر برده خوږه میوه ئې
خوره کوبه تا له بنده
ستا له عشق سره خړه د
ځوان له د حال ذهیر شد

[illegible] غم سره د حیئ شد
بلند شد [illegible] بوستان شد
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]

زر په هغه درنګ ئې دواړه
ترچاپېرڅوکیداران شول
یو هغه کښې څوکیدار وه
زرګرو چه زر شد څه تر
هغه یار ئې شه زر پورته
په حکمت او په هنر ده
راغی و دریده هغه دم
شهزادګئ او زرګر دواړه
څوکیدار وکړل بندیان
څوکیدار چه د زندان وو
ځن مست وو له افیونو
هغه دم له ځده تیر
وچه خدای شه مهربان
یوه ده د بادشاه نور
د تمام جهان دولت
د زرګر ښځه خبر شوه
یوه وینځه ئې هوښیاره
وچه زر شد شات پیدا کړه
هم هوده کړه څو طیار ے
دوه خوانچې ئې جوړې کړلے
ئې یوه خوانچه په سر کړه
دوی سره له د ې سامان
په زندان چه ئې مقام کړه
په سلام پسې دا ېږ تلګ
چه زه ښځه یم ضعیفه

سره وینول همغا ړه
دواړه پاتې څو حیران شول
چه دې بند د زرګر یاروه
څما ښځه خبروه ته
لاړ شه زر د زرګر کور ته
هغه ځای وکړه خبر ده
څوکیدار و سره سم
لاس په لاس غاړه په غاړه
کړل داخل ئې په زندان
هغه واړه عملیان وو
څوک ئې خود په معجونو
دوي خوشحال شو دیر دیر
وئې کړ په مونږ احسان
بل زرګر دے مشهور
راغی مونږ له دا ساعت
دا له کور د زر بهر شوه
زر له خو به کړه پیدا
اوس پخه خوړه حلوا کړه
میده سپینې مزه دار ے
په ترتیب ئې کینوده لے
بله وینځې له ئې ور کړه
دواړه لاهے تو زندان
څوکیدار و ته ئې سلام کړه
دی بیان کړ هغه درنګ
په نسبت په ذات شریفه

همیشه لیلی و نهار
سعیه طاعت د پروردګار
روژې نسیم تمام کال
په نامه د ذو الجلال
پیګاه خوب کښې اشکار
بنګ سره بیا ولیدل
وزندان کښې مروزندو
بند حلوا ته حاجتمند ول
ولی زر یو سر حلوا نه

ځه تلو اروکړه پر دا ته
دوه خوانچې پر بند شان
دې راوړې دا زندان
دا یوه د ښتاسو شیښه
وایه ورته خو دی میښه
اوروا بله د بندیان
خوړې دښمن زندان
څوکیدار و ور بخښله
دا یې ورته ولې بله

چه زندان له دِ داور شِے ... بیا دِ زر تورا بهر شِے
خوکید ارو چه پرېښوله ... دا بندیانو له ورتلله
نورئی و ینجه هغه درنگ ... په دموزنپوه کړه دارنگ
وِچه لور د بادشاه راشِے ... له زندانَ بهر دا شِے
ته ئی رز بوزه ترخاے ... بیا ور خه ترخپل سرایَ
چه زندان ته شوه د ننه ... دوی ئی دواړه ولیدنه
دشاه لور ته ئی وِیاسه ... داخوانجه تشه وباسه
بهر وینجه ده ولاړه ... ته هغه سره څخی دواړه
تا به بوزی ترخپل کورَ ... بی پروا له شر وشورَ
شهزادگئ ئی بهر کړله ... بنجه هلته پاتی شوله
شهزادگئ چه را بهر شوه ... نورئی و ینجه په نظر شوه
خوانچی دواړه واخستلے ... مخ په کور روانی شولے
شهزادگئ لاړله کور ته ... وینجه لاړه وخپل لور ته
شپه چه تیره شوه صباشه ... تمامی جهان رڼا شه
شول حاضر خوکیداران ... په دربار کښی د سلطان
واړه ووِ په یو واړ ... بیګاه شوے دے بد کار
مونږ ئی کړی نه شو بیان ... نه مجال لرو نه توان
نه شو حال چا ته ویلے ... نه ئی زړه کښی شو ساتلے
چه خبر په دے بیان شه ... شاه په فکر کښی حیران شه
نورئی وِ چه دا خبرے ... تا سو کړے خوشی ظاهری
ما به دی ستر گو لو خپله ... صبا خپل کور کښی لیدله
دوے قسم کوچه سلطانَ ... دروغ نه دوایو له خانَ
په زندان کښی دا زمان ... دواړه تن دِی بندیان
بادشاه و وِ که رښتیا وِے ... کار به هسے شان پیدا وِ
مال وملک به خپل تمام ... واړه کړم ستا سو په نام

اوکړه داویل خطاوی
نور به داستانو سرته
چه به هغو لا تا نیولی
دسپی بیتو ...
خوکیدارو دا اقرار کړ
نور زندان ته ئی ترقاد کړ
هم سلطان شه وردرون
لا لمبه لوری د زندان
چه جندره ئی بیرته کړلم

دروازه ئی په اتکل
خنبش نه شه ...
...
بادشاه و ...
نن ... تا سو ...
... سلطان
... بهر یان

مونږ وو پرون راغلي
درستو رخ مو کړله تره
چه حاجت ئې خپل ادا کړ
لکو تو الک وېږيد لو
مونږ وچه بيا صبا شي
ناګهانه څوکيدار
وکړ مونږ هغه ساعت
مونږ ويل نجخ څښتن يو
دوي په لوړې د زندان
اوس د شاه په حضور راغلو
څښتن نجخي چه بيان
جلاتيان بادشاه طيار کړل
تر جدائي کړل سرونه
تولئ ور کړل وزرګرته
حکيمي چه سر تر سر
شهزاده کړې سنزګي يو رته
وچه دا قصه دوبار ته
حکيمي په ډيره مينه
په دارو کښې ئې اثر
چه بد دا پياله چا څښله
وچه اې شهزاده هوش کړه
پس له هغه غوږ کړه ما ته
شهزاده پياله وڅښله
حکيمي قصه دوباره
چه قصه ئې خلاص کړله

څوکيدار رووو بللي
څو چه شپه شوله برخيره
نورئې مونږ له رخصت راکړ
په دې باغ د ننه شولو
څو به کوره ته چه ږ لاشي
په مونږ راغلل په يو وار
ورته ډير فرياد منت
زرګران د دې وطن يو
بوتلو مونږ بنديوانان
په دا هسې دستور راغلو
وکړ شاه ته په دا شان
هم راتولئ څوکيدار کړل
هم ئې واخستل مالونه
قصه ورسيده سر ته
بيان وکړ برابر
وکتل ئې د دې لوړ ته
ما ته وکړه په تلوار ته
پياله جوړه کړه شيرينه
پروت وه هسې مقرر
بې خودي به ندو ر تلله
دا پياله راواخله اوس نوش کړه
چه قصه و وايم تا ته
بيخودې تر ورکه شوله
هغه دم کړله تکراره
بيا خبره ئې کړه بله

وچه اې شهزاده جوان
هسې واوره مصريان
ښکاره ماته مصلحت کړه
ماخبر په حقيقت کړه
زه به درسعي ستا په کار کړم
کوښښ به نه په لبسيار کړم
حال د ډوره راته بيان کړه
تماشه بيا به بندستان کړه
شهزاده و وايم تا ته

کړه ته حال به دوا چا ته
څوک سرې واستوه زرګره
سعد ملوک راته حاضر کړه
حکيمي څوک واستاوه
سعد ملوک ئې ور بالنه
چه له ورايه سعد ملوک ئې
وليده سيف الملوک
هغه دم سره دوه دواړه
يو تر بل شولاس تر غاړه

داغلہ ما تہ و دریں تہ
پیش تحفہ ئی خلیفہ
نوری ما و تہ سلام کیہ
ما جواب پہ بنہ اکرام
وچہ موبن اوہ دیوان یو
قاصدان د سلیمان یو
دادوہ گوتی ستا دیار
شاہ مہرے ہم دوہ ہینیاد
ہم د آس چہ پہ سر کشے

۲۶

داپوشاک چہ منقش د
داخلور چیزی ئی تالہ
دالیلی دے فی الحال
داخیزونہ پہ بنہ شان
ورپیشکش کرہ سلیمان
داپیشکش کرہ اوس قبول
چہ را واستاوہ رسول
ورپیری ہیبے ومان
چہ نا کاندہ سلیمان

نورئی وِ چہ واید وے
شہزادہ وِ چہ موبن ناست و
پیشکشی نا گاہ راغللہ
چہ بدبخۃ پرانتلہ
یو صورت مِ ولیدنہ
چہ پہ ہغہ رنگ زیبا بلے
عقل ہوش مِ لاڑلے دوارہ
داچہ حال مِ پہ داشان دے
کہ خوک اصل د صورت
زہ ہلاک بہ کڑم داخان
سعد ملوک چہ داخبرے
پہ تلوار شہ زر روان
وِ چہ زیرے مِ در باندِ
د ملوک ہغہ جوش سور شہ
پہ جاموکبن چہ صورت دے
پہ بند شان پہ بنہ صفت دے
چہ داحالئی ورعیان کڑہ
دیرئی وکڑلے خیراتونہ
شاہ صفوان وِ چہ دا کار
داخیزونہ نا اشنادِ
یوہ ورخی بی وسواسَ
ناگہانہ بادشاہ پورتہ
پہ ہرچا باندِ ہیبت شہ
زہ او تخت سرہ لڑزان شو
گرد غبار چہ پہ ہوا شولے

تہ دا ہسبے دلگیر شوے
ہغہ ورخ پہ مجلس ناست وو
چہ بادشاہ راواستولہ
تہ جامہ دا ووتلہ
چہ جاموکبن بنکارہ شنہ
صورت نشتہ پہ دنیا بلے
خوب آرام مِ وورک شو دوارہ
د ہغہ صورت ہجران دے
پیدا ندکڑِ پہ دولت
د ہجران مِ نشتہ توان
واوریدے وارہ ظاہرے
چہ خبری کڑِ شاہ صفوان
ہسبے عرض کڑم د شاہ وراند
معلومیبن چہ اوس جوڑ شہ
پہ ہغہ صورت مین دے
خکہ تل ژاڑے غمجن دے
دیر خوشحالئی شاہ صفوان
کڑلے خیراتئی دولتوند
گوان بیحدہ دے بسیار
چہ پہ لاس کبن نن خمادِی
ناست وم زہ پہ تخت دیاسَ
گرد غبار جوڑ شہ ہلورتہ
خلق وِ چہ جوڑ قیامت شہ
خوک چہ ووارہ حیران شو
تر اوہ کسَ جدا شولے

چه دننه په خانه کښې
آورېدلي مې کتاب دے
ښته صفت په کښې شان شان
هم د پرورسولا نو
ما ویل کتاب طیار دے
په کښې ښته عجب صفت
چه بنده نوم ئې محمد دے
نادیده دده په دین
شاهِ صفوان وِچه کتاب
ولې شرط راسره داکړئ
چه دا شرطئې مقرر کړ
چه جامه مې وسپرده له
زه عاشق ئې په صورت شوم
نسکور پریوتم بې هوش
بیا چه تیر شه یو زمان
وِم مِ دا صورت دچا دے
وو ولاړ هغه دیوان
دا څېره لور د شهبال ده
او شهبال د شاه رخ خوی دے
په باغچه کښې دارم د
خو موندلے د باغ دِي گران
بیا مِ وِچه دا صورت
دوی ویل چه یو بنده خوان دے
په نامه نوشاد یا دیږِ
یوه ورځې سلیمان

ستا په خاص خزانه کښې
بنه روښان لکه آفتاب دے
د نبي آخر زمان
ښته صفت هم د نبیانو
راځنه میراث د پلار دے
د سرور نبي حضرت
رالیږلي پاك احد دے
را ورما ایمان یقین
زه به در کړم په شتاب
کتاب بیا را ته عطا کړئ
نور کتاب مِ ولده ورکړ
بنه څېره مِ ولیده له
سر ترپایه په هیبت شوم
زړه سینه مې ډك له جوش
په هوش راغے څما ځان
چه په هسې شان زیبا دے
زرئې وکړ دا بیان
په نامه بدیع جمال ده
په شاها نو کښې دلوی دے
په بناست کښې بې تلم د
ورتلی نه شي هیڅ انسان
جوړه کړے چا په بنه زینت
مجلس د سلیمان دے
د احکمت له هغه کېږِ
په نوشاد وکړ فرمان

وچیر راشه د اساعت
ماته وکړه حکایت
نوشاد و ماته معلوم
هیس حال که د نجوم
نن چې شاه د ملك و مال دے
د شاه رخ خوی شهبال دے
ځای د ده باغ ارم دے
بادشاه هم کړے ورك لغړی
چې کالو نه پیدا ایا بېل
یوه لوبړی ئې پیس اشنا
بنا بسته بروسے دا ویره
له حساب له حد تیره
مقرر به کړے شهبال
دوے نوم بدیع جمال
چه نوشاد وکړه بیان
په خبر شه سلیمان
وچه بس کړه دا تقریر
اوس کړه جوړ صورت تصویر
چه مجلس

چه مجلس کښې مدام وینه / تماشائي خلق کړینه
نور ځلوینت ورخې یې شمار / نو شاد کښېناسته کنار
بنه تصویر ئې طیار کړه / په دربار کښې حاضر شنه
چه څهره ئې ښکاره کړله / مجلسیانو ولیدله
حاضران شو کل بیهوشه / د تصویر د تاب له جوشه
سلیمان وچه ارمان دے / څه بادشاه څه ئې جهان دے
چه صورت داهسے رنګ / ورسره نه دي هر درنګ
نور دستي هغه زمان / څهره یوره سلیمان
خزانه کښې ئې کیښوله / تماشا به ئې کوله
یوه ورځ مجلس کیده نه / دا کتاب په کښې یاد شنه
چا واس کښې د صفوان / شته کتاب په هسے شان
بادشاه وچه دا صورت / بنائي دا چه دا ساعت
شاه صفوان ته واستوم / او کتاب ته وغواړم
پس له هغه سلیمان / وکړ مونږ بانه فرمان
د هغه په حکم بانه / دا پیشکش مو دا ورړاند
دیوان لاړل رخصت شونه / ما ته ئې په ښول پیشکشونه
دا څهره او پیشکش نور / ما داخل کړه په خپل کور
چه بې مثل هر یو څیز وه / دیر په ما بانه عزیز وه
نور مې خوی له ورکړنه / ما په دے خوشحالونه
دا تقدیر به مقرر وه / تدبیر کله په خبر وه
چه د خدای به هسے کړه شي / دا به رنځ خما د زړه شي
اوس دے چه ته سلیمان / چه دا کار کانه روان
ښا پیري ښکه آشنا کړم / ارم باغ چه ته پید اکړم
نه نشان ئې چا لیده لے / نه ئې خای دے چا موندلی
نه یو هیږم کوم چار کړم / څه تدبیر او کوم لار کړم

نور ئې جمع سرداران کړل
هم ئې را بول ئې وزیران کړل
حکیمه چند زر نوش هم
با صلاح صاحب هوش هم
صفوان وچه مصلحت
خوش کړه ئې تا سو د ا ساعت
چه کار وکړه و په سلوک
دروغ شي د اسیف الملوک
تلم و عرض وکړه داستان

۲۸

صفوان
په خدمت [illegible] صفوان
[illegible] سره
چه په [illegible] حرم [illegible]
شهزاده [illegible] سره
تسلي ئې [illegible] پیر
صبر [illegible]
عمر [illegible] بیر
[illegible] ده
[illegible]
تشریف [illegible] صورت
[illegible] په نقش پر زینت د
ساز [illegible]
او

او شهبال د شاه رخ خوی دے
پهٔ ارم کښې ئې مقام دے
ورسره مهلت يو کال کړه
چه يو کال ورباندې تېر شي
مصلحت چه پهٔ دا شان شد
شهزاده سره د ننه
وِچه اے خوی همرازَ
ستا مطلب دے پهٔ ارم کښې
اوس پهٔ خلق ولیږم زه
مګر ته لږ پهٔ آرام شه
پس له کاله به خبر زه
شهزاده وِ مهربانَ
روح مِ لوټ هغه جمال کړ
اوس د آتش قالب ئې خانَ
زه به خو صبر کومَ
پهٔ مخ او بنی ئې خوږ تلے
مور و پلار هم ئې سپايانَ
پس له هغهٔ شاه صفوان
چه سره روانوم زه
شهزاده هم پرِ رضا شه
کال مهلت ئې برابر
که ئې او ریږ زه لګیاوه
پس له هغه شاه صفوان
چه پنځه زرَ خوانان
له لښکرَ را جدا کړے

بادشاهت ئې له حده لوی دے
هلته ساز د ده آرام دے
شهزاده پهٔ دا خوشحال کړه
دغه کار به د ده هیر شے
نور دا يو ته شاه صفوانَ
پهٔ خلوت کښې کښیناستنه
بهرمندَ سرفراز
باقي مه او سه پهٔ غم کښې
ارم باغ به لټوم زه
پهٔ آرام پهٔ خپل مقام شه
را وړم تا له د دلبر زه
ای ځما پلارَ سلطانَ
هوش ځمائ کل پایمال که
در ته ناست یم ناتوانَ
دا سختي به خوږ غمَ
له چشمانو ئې وینې سرې تلے
ژړېدلے هغه زمان
ورته وو پهٔ دا شان
ستا پهٔ کار لیږم زه
خوښ پهٔ خپله مدّعا شه
ورسره کړ مقرّر
پهٔ وعده خوښ د آشنا وه
پهٔ دا شان وکړ فرمان
ځوانمردان او قاصدان
حاضر مخ کښې ئې ځما کړی

د ربطیا رشو هغه نشان
پنځه زر د قاصدان
وریجه زری پر ملکونو
بیلتون پوری پر بیدیدونو
... پر ښکلو
کنده کړه عمر او باغونو
لټوي پیدا او پر هغه د بر
هر ساعت او پر هغه د ارم
لټوي باغ ارم
پیدا معلوم کړي ګرد ورو

د بدیع جمال حضي
چه ارم هر چا پیدا
او خضري مالکه ر
خدا ...
ورکړم زه هم د کوه
د دربکاه پریګه مقرب
ورپیوره پر هو مطلب کړم
پس له هغه د ځوانان
هر طرف ته شول روان
قول

څوك طرفته د قيروان تلل
څوك طرفته د ايران تلل
څوك طرفته د بلغار تلل
هر طرف ته زغليدنه
ځای په ځای د قاصدان
دوی پوښتنی به کولے
په احوال د بادشاهانو
خبردار شول سر تر سره
يو له باغ د ارم
د بديع جمال هم نوم
پس له څو ارلس مياشتو جان
بيل بيل دوی راوړ صورت
څلور زره تصويرونه
د غه نبی څهرے نادرے
چه مقصود ئی په هيڅ شان
شاه صفوان په زړه غمناك شه
وچه اودم په زړه بلا شه
ما وي يو خبر به را شي
ولی واره شئ هوښيار
او که نه اوس به هلاك شي
او ملوك شهزاده گوره
بی قراره بے آرام
ورځ نه هغه څهره وه
مناسب له خپله حاله
ستا چه نخ په شان د گلو دے

څوك په لور د خراسان تلل
څوك په لور د بدخشان تلل
څوك به لور د قندهار تلل
په هر لورے گرزيدنه
شول ډيره په هر مکان
هم قصی به اوريدلی
هم په حال د فقيرانو
په بند شان له زيرو زور
چا څرنده زيات و کم
نه شه هيڅ ته معلوم
را غلل دوی تر شاه صفوان
ساز په نقش و په زينت
راوړل دوی په بند نقشونه
دوی صفوان ته کوے حاضر
معلوم نه کړه په جهان
کير په غم او په غمناك شه
ټول صورت م په جلبل شه
شهزاده به په خندا شي
چه دے نه شی خبردار
زړه پاره سينه به ئی چاك شي
په صحرا به سر وه وروره
گرزيده به بی مقام
مشغولائی ورسره وه
دائی ورسره له خياله
ځما زړه پسی بلبل دے

ستا چشمان جادوگران دي
ځما ټوټې پر دل ليجان دي
ستا مژگان غشي بي پر دي
ځما خنبے د زړه پر سر دي
ستا زلفان لکه زنځير
ځما زړه شه پر اسير
ستا چه حسن پر داشان دي
ځما کړان څکه کندان دي
ستا چه هسے ساز و باز دي

ځما دا اے سحر کمان دي
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]

راته هیڅ نه شو خبر کند
اوس په مرګ یم خمار ضا ده
بیابه نی وچه قاصدان
امیدوار یم چه خبر
په دا شان ئی په بار بار
ناګهان قاصدان
چه له دوی نه شه خبر
شهزاده وکړه پوښتنه
چه خبر ئی د جانان
په فریاد په واویلا شه
یو په بله ئی سودا شوه
په صورت ئی غم انبار شه
خوار خسته لکه مجنون شه
په ژړا او په ناروشه
مور و پلار تر ګیرو پیر شو
شاه صفوان ویل فرزنه
ستا په کار کښی زه حیران شوم
که دولت په لګیدی
ولی زه که خان قربان کړم
خور لس میاشتی شولی تیری
په هر لور می کړل روان
سعی و شوه له حد زیاته
خما لاس کله رسیږی
شهزاده له دی ګفتاره
اور ئی بل د زړه په سر شه
خبر خوار زه د دی خیل زونه
رضا یم که می قصاد ده
هر خوا هر خوا دی روان
مال ده راوړی دد لبر
کاوه خان سره ګفتار
له هر خوا راغلل ځوانان
راغی کور ته برابر
هیڅ مطلب په کښی نه وند
معلوم نه شه په هیڅ شان
لاړه په لوری د صحرا شه
ډیره زیاته ئی غوغا شوه
خواب زړه ئی تار په تار شه
سم قامت ئی لکه نون شه
په فریاد او په زارو شه
خیل خپلوان تر ګیر چاپیر شو
بختورشی له سنه ځونه
که هوښیار و م نادان شوم
ما به توله وه په بښندی
په خپل شان آشنا پیریان کړم
ګرځوم خلقی ډیری
پنځه زره قاصدان
هیڅ خبر را نه غی ما ته
هر چه خدای کا هغه کیږی
تار په تار شه بی اختیار
آه ئی شین له خولی هر شه

چې لاړه د زړه په زوره کم
خلق ئی چې لیده په شور و شور کم
شوه له خوبه دده بیرون
سوی غوښه د ... لیده موران
پلار و مور هم ئی خپلوان
نوال شو کیوه پریشان
شهزاده نو په زړه نا شم
مور و پلار و چرخ و یا نشم*
وی چې پلار ده مهربان

حال خماشد له دی شان
پلار ئی و دستی کړو نوری
خدای د خلاص کړه له ضرور ده
خدای ئی کړه غوا ... ډیری
واخله ته له حق ئی ...
تصویر و نزهم بسیار ده
واخله خو چې ... ده
پادشاهت بروا ده ورکړم
دامقصود بریستاسره کړم
شهزاده

شهزاده په واو پلا شه
که خوبان د کل جهان شي
دام واره په کار نه دے
مکولو چه د شهبال ده
هم هغه ځما دلبر دے
شاه صفوان چه داخبر
نور ئې جمع عالمان کړل
د تدبیر په بند سلوک
واره خوښ هغه ساعت
چه د زر وجوړ زنځیر کړې
تر بوکال حق حیران وه
کاه په هوش کله بیهوش وه
تل په زړه باندې ئې خیال
خیال سره په مشغولا وه
یوه ورځ اوده په خواب وه
ناګهاوړ تر په خیال
چه ئې حسن ولید نه
نور ور ورانې ئې قسم کړه
وچه خال دوایه ما ته
ښکاره ما ته خپل مکان کړه
چه بوښ نه ګرزو هر لور ته
چه وریاد ئې کړ قسم
وچه داواوره ای خوان
ګران د مینې کاروبار دے
ته به کور کښې ناست ژړا کړې

پلار ورته هسے شان ګویا شه
راته جمع پریشان شان شي
هیڅ ځما په اختیار نه دے
په نامه بدیع جمال ده
پسې خوګ ځما څیکر دے
له ده واوریدے ظاهر
هم راټول ئې حکیمان کړل
وکړئې تاڅو د ملوک
شول په داسې مصلحت
شهزاده په کښې اسیر کړې
په زنځیر کښې بندیوان وه
کاه ګویا کله خاموش وه
نقش وه بدیع جمال
نور له هر چا بې پروا وه
بې طاقت هم بې تاب وه
شوه ښکاره بدیع جمال
شهزاده ئې حیران کنه
په لمن ئې لاس محکم کړ
کور مکان دې کوم خواته
را معلوم ئې بونم نشان کړه
بې درک ښکته پوړ ته
دې خندا کړه هغه دم
شه خبر له دے بیان
په مشکل طلب د یار دے
خنکه مینه به په ما کړے

مینه هغه قلندر ګرځی
چه په یار پسې سفر کړی
که په ما پسې روان یې
سر په غم په بیابان شې
پس له هغه په دیدار شې
وګورې ما سره به یار شې
په سفر ګران وصال د
داد خوشی عشق خالد
زه هم یم په تا مینه

[illegible]

چه له حاله خبردار شه
په بندشان دخپل جانان
مهربان پر غنی خدای شه
چه خبر په شاه صفوان شه
زر زنځیری تر جد اکړ
چه خلعت ئی واغوستنه
و بادشاه که اذن کانو
څما زړه کښې شته خبری
پلار ئی وچه د زړه خیال
هو کړم په پرده ارمان
وچه تا سو په بند ښت
چه هیڅ خوښی به پلار
ولی زه په دا زمان
چه رخصت ماله اوس راکړی
زه به ځان له لټوم
که رخصت راکړی شی ماته
تیر به کړم په ځان دردونه
شهزاده چه دا بیان کړ
په حرم کښې هسی شور شه
صفوان وچه ای فرزنده
چه سفر ته تا لیږم زه
په زاروم له خاونده
ستا په مخ څما ژوندون دی
شهزاده وچه تقدیر وی
عاقبت له غم مرم زه

نور له خواب را بیدار شه
ور بنکاره شه نوم نښان
عقل فکر ئی په ځای شه
شهزاده له درا روان شه
بنه خلعت ئی ور عطا کړ
نور ئی پلار ته عرض وکړه
مهربان شه په ما بانده
زه به وایم ظاهر دی
واره و وایه فی الحال
بیان وکړه دا زمان
ماله و کړ مشقت
کړی ندوی همه کار
عرض کوم په هسی شان
په دا کار مې زړه رضا کړی
په هر خوا باغ ارم
زه به ګورم هر خوا ته
د سفر سختی رنځونه
شور ئی کله په خاندان کړ
ګویا بل په حرم اور شه
طاقت نه لرم دلبنده
بادشاهت به کور کوم زه
ته غوښتلی څما ژوندون
بی له تا م حال زبون دی
هلته څه په کار تدبیر وی
که بهر که په کور یم زه

صفوان وچه داستان
کو و هیبت کښینبو مصلحت
تدبیر چا ځکه بالوزنه
دی سفر ته پیدا کړم
وا خبر به زه پیدا کړم
چه خوشحال شی پر خپل زړه
بیا سر له خپله حاله
تا خبر کړم د غم دیار
شهزاده وغم دیار

دی څما خبر
بنا ئی دا چه په خاطر باد
مقرر کړم دا سفر زه
خوبند ده هر چا ته
غم دی و کله په بلا
په پردو ستر ګو لیږه
کله شی دیار ګښته
صفوان په دوستی چه وینه
دسفر ته په لیږنه
وراه

خواه مخواه ئی عاقبت — د سفر ورکړ رخصت
وچه په تلو رضا ده — ښتا رضا خو ښه خماده
ته چه د رومی په سفر — ځان سره بوزه لښکر
هم به ځی په بند سلوك — تا سره سعد ملوك
شهزاده له دے بیان — ډیر خوشحالے شه ئی شان
دم په دم خوشحالیده نه — لکه ګل تازه کیده نه
پلار ئی وچه چو ته ځی ته — سفر کوم خواند کوی ته
چه تو بنه کوم طیاره — مناسبه ستا د پاره
که سفر کړے د دریاب — د دریاب واخله اسباب
که په وچه د وی نیت — خوښ کړه هغه مصلحت
شهزاده وی دا زمان — سفر کړم د بیابان
ورسره شه دیو عالم — واړه ښه شو غږه په سم
چه مطلب ئی سر نه شنه — بیا دریاب ته ئی نیت کنه
ورسره کړل شاه صفوان — او یاز ره بند ځوانان
اوده تن مقرر — سرداران شو د لښکر
کشتئ جوړے ئی او یا کړی — په بند نقش ئی زیبا کړے
په کشتو کښ مسجد وه — جوړ ئی کړل هم حمام وه
ورسره ئی عالمان کړل — هم ئی لوئ لوئ حکیمان کړل
امیران او وزیران هم — دانایان او هوښیاران هم
خوش آواز مطربان — قسم قسم سرودیان
ملاحان چه د دریاب وو — یوه په کار او په حساب وو
خزانی ئی کړے ډیرے — ورسره لاحد تیرے
حاصل دا چه تول طیار شو — نور د تللو په اختیار شو
ورسره شول پلار و مور — هم صالح زر نوش هم نور
د دریاب تر غاړی واړه — دوی تلل غاړه په غاړه

مور ئی خوږ لری شان
له فراق لره ارمان
[illegible]

[illegible]

چه دده خنکه قضاده
پس له هغه ئې شکل کند
شهزاده ته بیا صفوان
وچه ای خما فرزنده
ماسیارلی یې په خدے ته
پس له هغه شولے روان
شهزاده چه تری جدا شد
چه له خلقو روان شوند
ښداری ته ئې صفوان
روی تر هغه ولاړ وند
بیا صفوان بیر تر راستون شه
په حجره کښې لاړ د ننه
بیا صالح ته ئې وصیت
پادشاهت چه څه څما دے
ورځ چه راشي د قیامت
عدلے غواړي بدله مانه
لره دے قسم څو خبر ے
بیا حجرے ته لاړ د ننه
په سجده د خدائے ته نکون شد
چه فرزند بې ئې په یاد شد
ښیدا د ورځ ئې د غه کار وه
القصه شهزاده تنه
خلو لښت ورځي په سامان لاړ
ناگاه پیښ په جزیره شه
چا د چین بادشاه فغفور
په هغې خمو بزر ضایده
ور ته دیر دیر ئې کا تنه
دعا وکړه په داشان
خدای د خلاص کړه له د بنده
ناست ولاړ کړې هر ځای ته
په کشتو کښې په سامان
مخلوقات په واویلا شه
نور ئې پریښول باد وانونه
وه ولاړ په زړه پریشان
څو پنا شولے جهازونه
لیونی لکه مجنون شه
جدا ځان له کسینا ستنه
هسے وکړ په بند نیتٌ
حواله کل واړه ستا دے
شي به سوال د عدالت
زه به غواړم له تا نه
بادشاه وکړے نا دره
پاك الله ئې یادونه
په صورت په زړه محزون شه
هم دم به به خو یاد شه
زړه صورت ئې نا قرار وه
په دریاب کښې روان وند
په قرار او په امان لاړ
ملک د چین ور ته ښکاره شه
خبر کړ به دے مذکور

چه راغلل لوی لښکر د
تمام عالم ډیر ویرونکي وړ
دریاب و نه هیبت څوړ
ونه هم ورنه د هشتوړ
د دریاب هم ورنه هغه دم
فغفور د حکم
د لښکر وکړه محکم تیاری
پر لښکر سپاهیان بې شماره
وچه تلل کل سپاهیان
ځکه ورسره د صف خوانان
هغه قدر چه حساب وا
کل بخوش رز د سپاهیان پاشو
ځان ئې چه کړه په بند ننګ
محکم ئې بنت ئې وه د جنګ
پیاده رز رز قاصدان
شهزاده ته کړل روان
وچه رز شي په شتاب
دا کړي موږ له جواب
سوداګري سوداګران ئې
که ملک اخلي بادشاهان
شهزاده د

شهزاده وِ سیلانیان یو
جنګ خپونږ نه دے مطلب
موږ نخه هر څه بسیار دِ
شهزاده ورکړ خلعت
لاړل بیرته قاصدان
له احوال ئی خبر کړ
وِچه څوک دِ صفوان دے
نه پرواه ئی په دولت شته
فغفور دِیر پر دا خوشحال شه
ملاقات ئی په بند دِیګ
شهزاده ورکول مالونه
نور د چین له نقاشانو
شهزاده کاوه پرسان
وِچه زه ګورزم ملال
هم چه ګورزم عزه په سم
که معلوم هر چا تروینه
دے دوار و پر مطلب زه
هغو وِ په دا مکان
د دیو عمر لوغونی دے
له هر کار خبردار دے
هغه زور ئی حاضر کنه
زور په فکر کښې غرقاب شه
وِچه ما عمر تمام
ګرزیدلی په جهان یم
اوریدلی دا خبر دے

په مطلب پسی روان یو
د خپل کار کوو طلب
غواړئ هر څه چه پکار دے
هر قاصد له بیش قیمت
د فغفور په لور روان
خبردار ئی سراسر کړ
په مطلب پسی روان دی
نه وطن ته ئی حاجت شته
ورروان په استقبال شه
سره وشه هغه درنګ
و فغفور ته انعامونه
له هو بنیار و اوستاذانو
په بنږ رنګ او په هندستان
لتهوم بدیع جمال
لتهوم باغ اِرَم
راښکاره دِ مانه کړینه
مدام ګورزم روز و شب زه
یو سر دے شتر د ناتوان
زیات له حد پخوانی دے
له هغه پرسان پکار دے +
ورنه وئی کړه پوښتنه
شهزاده ته په جواب شه
کړے هیڅ نه دے آرام
خبردار په هر مکان یم
نه دی ما پتهی ظاهر دے

بیم غوښونم اوردیو کی
علم په پیښو کی
پادشاهی کوم اوده ورلیس کی
شهزاده لره ددی ورلیس کی
دیوی هیر شه کفت
په چشمانو ناقراره
دسر و وینو شه روان
پیاده وواوره جوش

مانر غوڅ کړه مهربان
استا نیول شیه وریځ
که مطلب به صبر شه
هلته په قصد تیار جانان وی
عالمان او فاضلان وی
له هغو وکاوه بیان
نور ئی حال به ویناوه
استا بیول تر روان شوه

په قرار او په آرام
ناګها مخالف باد
هر خوا پوره ته شول موجونه
کشتئ کښے ورے شوے
په شیبو شیبو باران شه
چه په کور کښے جنګیدلے
په کښے مړه شول کل سپایان
یو خوا لاړ سیف الملوک شه
په یخته ورځ محکم
شهزاده په زړه ملال
ورسره پنځوس یاران
مړه یاران ئی یادیدنه
